له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه چې ظلم د قیامت په ورځ تیاري دي او له بخل څخه ځان وساتئ، ځکه چې بخل له تاسو څخه مخکې خلک هلاک کړي دي،

له جابر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه چې ظلم د قیامت په ورځ تیاري دي او له بخل څخه ځان وساتئ، ځکه چې بخل له تاسو څخه مخکې خلک هلاک کړي دي، دېته یې اړ ویستلي چې خپلو کې وینې توی کړي او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال وګرځوي".

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ظلم په اړه خبرداری ورکړ، چې له جملې څخه یې: د خلکو سره ظلم کول، په خپل ځان ظلم کول او د الله تعالی په حق کې ظلم کول دي. او ظلم؛ حقدار ته د حق نه ورکول دي او دا چې ظلم د قیامت په ورځ د ظالمانو لپاره تیاري دي چې له امله به یې له سختیو او وحشتونو سره مخ شي. او له هغه بخل څخه یې منعه وفرمایله چې حرص ورسره مل وي، چې یو ډول یې د مالي حقونو په ادا کولو کې غفلت او په دنیا سخت حرص کول دي. دا ډول ظلم هغه ظلم دی چې زمور څخه مخکني ملتونه یې تباه کړي دي، اړ یې ویستل چې یو بل ووژني او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5787